مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۴/۰۴/۲۴

د پوهنتون خاطرې

(۶)

په هغه ورځ مو وروستی ساعت خالي و. له دوه ملګرو سره له تدریسي ځانګې د لیلیې په لوري روان شوم. لاره کې دوه نور محصلین هم راسره یو ځای شول. په دوی کې یو میلمه و. دا میلمه د همدې پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي د لومړیو دورو (٦٨- ١٣٦٩)له فارغانو څخه و.
هم مو ګامونه اخیستل او هم مو مجلس تود ساته. د عربو استادانو په اړه خبرې کیدې.
ویل کیده چې زموږ د پوهنتون د اینجینیري پوهنځي ودانۍ هم یوه عرب جوړه کړې وه. که غلط شوی نه یم؛ نو دا عرب، دکتور فرید نومیده. اوریدلي مې و چې دې عرب د اینجینیري په کومه څانګه کې دوکتورا کړې وه. ما چې به له اینجینیر سره د دکتور نوم واوریده حیران به شوم؛ فکر مې کاوه چې دا به یوازې د اینجینرانو تداوي کوي!
د انجینیري پوهنځي ودانۍ ډیره ښایسته جوړه شوې وه. که درته ووایم چې په ټولو پوهنځیو کې د دې ودانۍ ساری نه و؛ نو بې ځایه به نه وي. د دې پوهنځي معیار هم ډیر لوړ و. آن له اسلام آباده به روزانه په یوه کاسټر کې استادان راتلل او تدریس به یې کاوه .
هغه وخت دا کمپیوټرونه او دا د انجینیرۍ سافټ وایرونه لکه اټو کیډ (AutoCAD) او نور اوسني شیان نه ول. د دې پوهنځي محصلانو به له خپلو چپر کټونو پردې راتاوې کړې وې، منځ کې به یې ګروپونه لګولي ول او پر لویو لویو کاغذونو به یې نخچې رسمولې .
له تدریسي چې به راووتلې او لږ مخکې به راغلې؛ دلته یو ډیر ښایسته او پراخه جومات و. د لیلیې په جومات کې چې به د ازموینو په شپو ورځو کې د محصلانو شمیره بیخي لوړه شوه او د مطالعې ځای به قحط شو؛ نو موږ ځینې ملګري به همدې جومات ته راتللو او تر نیمو شپو به امتحان ته په چمتوالي بوخت وو. د دې جومات مخې ته یو میدانی و. میلمه محصل ښپه نیولی شو او بیا یې همدې میدانې ته لاس ونیوه:
دلته یې راټول کړو. عرب استاد خوندور تقریر وکړ او بیا یې موږ ته ګوته ونیوله او وه یې ویل: چې بل کال زه راځم، باید دا نیمایي محصلین دلته نه وي!
ما، ژر ترې وپوښتل: بختورو! عربستان ته یې د تحصیل لپاره استولئ؟ که کوم بل هیواد ته، بیا څه وشول؟ څوک لاړل؟ ته ولې پاتې شوې؟
هغه وخندل: عربستان له کومه شو، بلې دنیا ته یې استولو!
او بیا یې زیاته کړه: د استاد مطلب دا و چې باید افغانستان ته لاړ شئ او خپل سرونه نذرانه کړئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ